محمد اياز نـوري ۲۰۱۵/۰۴/۱۵

ژوند ژوند افغان ځوانانو مقيم د اطريش

درنو د اطريش هيواد د ځوانو جلا وطنو افغانانو د اتحاديي غړو، زما هيواد والو، خويندو او وروڼو!

ما او په يقين سره په زرهاوو افغانانو ستاسو په وطن پال قلم خبرتيا (اعلاميه اتحاديه مهاجرين جوان افغان در اطريش) د افغان - جرمن په ويب پاڼه کي ولوستله. ستاسو دغه اعلاميه لنډه، ليکن د موضوع او مضمون په لحاظ پوره علمي او په منطق او حقايقو ولاړه مهمه او جامع ده او لوستونکی که موافق وي او که مخالف، دي ټکي ته متوجه کوي، چې د حقيقت لار ونيسي او که د درواغو لار.
ما ليکونکي د يو شمېر افغان ضد او وطن ضد عناصرو په باب، چې مشري يې يو کس په نوم د شاغلي غوث مير کوي،د اطريش هيواد د افغان مهاجرو په جمله کي اوربدلي وه او اوس چې ستاسو هر اړخيزه خبرتيا خپلې مخې ته لرم، هر څه په يقين تبديل شول. ستاسو د معلوماتو پر بنسټ دا، چې په دي وروستيو کي د اطريش په هيواد کي يو شمېر افغانان د غوث مير تر مشرۍ لاندې سره ټول او د افغانستان د يوې کرغېړنې سياسي دورې، چې په سقاوي مشهوره ده، لمانځنه کوي او مشر او سروال يې غله حبيب الله ته درنښت کوي او د عيار او ملي اتل نوم ورکوي...؟!.
زه ستاسو د تشخيص سره بالکل موافق يم، چې دا ډول افغانان په روهي لحاظ مريضان دي، دوی يو ډول ځانګړی له عقدو او خفګان ډک خوی لري او په ځان کي ډېر د کموالي احساس کوي. دوی ډېر د شر وخاته تمايل ښيي. د اتفاق او اتحاد سره مينه نه لري، داسی افراد او باندونه حتی پخپل اړوند قام کي هم د زړه له کومې پلوي نلري، کنه ځنګه يو افغان پخپله خوښه حاضرېږي، چې د حبيب الله ياد شوی په تاريخ کي په بچه سقاو څخه، چې يو جاهل، بی سواده او ژوند يې د غلا او لاري نيولو نه بيا تر منافقت او درواغو ويلو، تعهد ماتولو، انسان وژلو، د انګريز استعمار ته په جاسوسي پورې، تړلی وي، په ستاينه او غوندو جوړلو ورته اقدام وکړي. آيا د لندن او د اطريش د سقاوي غوندو مشمولينو دا تشخيص کړی، چې حبيب الله رشتيا يو عيار وه او که يو او قاتل او منافق؟
افغان تاريخ پوه مرحوم غبار په افغانستان در مسير تاريخ خپل کتاب لومړي ټوک ۸۲۱-۸۲۲ مخونو کي داسی ليکي: (بچه سقا که ضعف حکومت را احساس کرد، منتظر مفاهمه نشد و در فعاليت خود افزود و چندين نفر عسکری را که در کابل ميرفتند در طی يک حمله ناګهانی بکشت. (يعنی بی ګناه عسکر، بدون د شرعی محاکمي وژل) بيا د کابل والی احمد علي خان امانی دولت ته وړانديز کوي، چې حبيب الله او کسان يې حاضر دي دولت سره يو ځای شي او دوی په قران مجيد تعهد کوي. له دي تعهد او لاسليک نه پس د والي په وړانديز اعليحضرت غازي امان الله خان لکه يو صادق مسلمان د قران کريم د تعهد پر اساس تسليم شوو خلکو ته د امنيت د لا ټينګښت په خاطر ۸۲ ميله ټوپک او ورسره جبه خانه ورکوي، ليکن حبيب الله بچه سقاو لکه يو منافق يعنی په زړه يو او په خوله بل، خپل قسم او تعهد تر پښو لاندې کوي او په هم هغه وسله اماني دولت له منځه وړي،(هم هغه پورته ذکر شوي د کتاب مخونه). اوس مونږ يو منافق ته څنګه عيار ويلی شو...؟!..
حبيب الله بچه سقاو د افغانستان د خلکو له خواء د ملي خاين په توګه پېژندل او په تاريخ کي ثبت دی. زه ليکونکی د خپل علم او منطق پر بنسټ ملي خاين داسی تعريف کوم:
هرهغه کس، چې د خپل يوه عمدي عمل په ذريعه ټول ملت ته زيان ورسوي، هغه يو ملي خاين محسوب کيږي. اوس که مونږ افغانان وپوښتو د هيواد د اکثريت نه پورته د اماني ويارمن دولت ارمان کوي او پر حبيب الله او يارانو يې خپل آزاد قضاوت ورصادروي او د اماني دولت په راپرزولو يې محکوموي. په دي ترتيب او حساب کله، چې يو شخص د هيواد د غوڅ اکثريت له خواء غندل کيږي، هغه يو ملي خاين دی.رشتيا هم، چې د اماني دولت په سقوط سره مونږ افغانان حد اقل دوه نسله يا حتی دري نسله د نړی د پر مختګ د کاروان نه وروسته پاتې شولو.
ګرانو ځوانانو!
ما او نورو وطن پالو افغانانو ته د خوښی ځای دی، چې تاسو پخپل تحليل کي کلکانی حبيب الله د انګريز يو مزدور (هموطنان شريف ما اطلاع دارند که حبيب الله کلکانی مشهور به بچه سقاو بمثابه يک فرد بی سواد، دزد و رهزن به دستور انګليس...) ذکر کړی دی دا تحليل او تاييد، ستاسو سياسي بلاغت او ستاسو صداقت او خلوص د نيت مو خپل ګران او تاريخي هيواد افغانستان او زمونږ ملي اتل او د وطن د استقلال محصل اعليحضرت مرحوم غازي امان الله خان ته ثابتوي. تاسو په دي خپله رښتيني او شريفانه لار کي يواځي نه ياست.
د حيرانتيا ځای خو لا دا دی، چې دا کسان لکه غوث مير او ورسره موافقين يې ځانونه ډوند اندي او روشنفکران هم ګڼي؟؟ دوی په مشخص ډول داړه مار حبيب الله، چې پخپل نهه مياشتني اقتدار کي يې زمونږ تور سري خوندي او مظلوم خلک بی

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ناموسه شول، په کوم صفت يې دفاع کوي، ويار پرې کوي او غوندې پرې جوړوي؟ غوث مير او دارې يې بايد د لندن د سقاوي غوندې د غبرګون نه عبرت اخستی وای، چې په افغانستان ربښتينو زړه سواندو افغانانو په علمي، منطقي او تاريخي اسنادو سقاوي دوره وغندله او هيواد وال يې له نورو پټو پاتی شويو تاريخي حقايقو لکه د خليل الله خليلی اصلي څېره او شخصيت څخه خبر کړل.

درنو هيواد والو!

وطن او ملت ته خاين او غدار لکه څنګه، چې پرون موجود ول او عمل يې وکړ، نن هم شته او په راتلوونکي کې به هم موجود وي. زه دا مسخ شوي خلک بولم او اصلاح د دوی له امکان نه وتلي وينم. لهذا زمونږ اتحاد، سياسي هوښياري، صداقت او د وطن مور ته د نيت پاکوالی او قرباني، دا زمونږ د ملي مبارزې د لوحې سر بايد اووسي، بيا وطن او ولس ته خاين زبون او ناکام دئ.

په افغاني مينه او درنښت

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de

يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ